لومړۍ کچه

التعليم فوق الجميع | education above all

storyweaver PRATHAM BOOKS

# د ببرۍ لپاره یوه چترۍ




**لیکوال:** شبنم مینه واله

**انځورګر:** مالویکا تیواري


THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire


An Umbrella For Druvi (Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



ببرۍ، چخلۍ (Dragonfly)، تازه الوتل زده کړي دي.
هغه له خپلو ملګرو سره ډنډ ته څېرمه الوزي.
دوی چینډخان څوروي او په غرمنۍ کې غوماشي خوري.



ماښام، ببرۍ نږدې ځنګل ته ورځي.

هغه د مارغانو ځالو او د غڼو ځالو ته ګوري. خو هغه په آسمان کې د وريځو راټولېدل نه ويني.






ټپ! د باران يو څاڅکی د ببرۍ په سر ولګېد.
ببرۍ کور ته ستنېدل غواړي.
خو هغه نه غواړي چې وزرونه يې لانده شي.



ببرۍ فکر وکړو چې زه یوې چترۍ ته اړتیا لرم.
هغه د ګلموهار ونې پر لور والوته.
دا یوه قوي، سره چترۍ معلومېږي.



”پاڼي ډېرې وړې وړې دي“. ببرۍ فکر وکړ،
”دومره وړې دي چې يو مېږی هم نه شي پټولی، زه يو څه غټ شي ته اړتيا لرم.“



د ببرۍ نظر په سترو، ستوري ته ورته پاڼو پرېوت.
”د پاپایا ونې پاڼې به ښه چترۍ ثابتې شي، خو، اوه، نه، دې کې خو اوبه نفوذ کوي،“ ببرۍ فکر وکړ.

ډېر تېز باد لګېږي خو ببرۍ تر اوسه پورې ځان لپاره چترۍ نه ده پیدا کړې.
هغه د یو بوټي لاندې کښېناستله، خو د بوټي نرۍ پاڼې قات شوې!
"ته څومره بې رحمه يې" ببرۍ لمس سره حساس (Touch-Me-Not) ونې ته وويل.





ببرۍ ډېره خواشينې ده. ځنګل له پاڼو ډک دی.

په ځنګله کې نرۍ پاڼې اوږدې پاڼې، غټې پاڼې او کوچنۍ پاڼې دي.

خو يوه يې هم د چترۍ پاڼه نه ده.



ناڅاپه د ببرۍ سترګې په بنیان/هندي انځر ونه لګېږي.
دا د ستوري په څېر یا تېره څوکې پاڼې نه لري.
نه یې پاڼې ډېرې درنې دي، نه ډېرې سپکې دي.



ببرۍ د بنیان/هندي انځر وني پر لور الوزي.
هغه د پاڼې لاندې کښېني.
هغې خپله چترۍ موندلې ده!

## د چخلو (dragonflies) په اړه نور معلومات

چخلۍ (Dragonflies) په سفر کې ډېرې تکړه دي! ځينې چخلۍ – لکه واندېرنګ ګلائيډر (Wandering Glider) چې مونږ يې په کښتونو او باغونو کې وينو – له هند څخه تر افريقا پورې د بحرونو د پاسه سفر کوي. هغوی د هند سمندر نه د اوږېدلو لپاره ۱۶۰۰۰ کيلومتره مزل کوي.

هغوی په اکتوبر کې له هند څخه خپل سفر پيلوي او د تانزانيا په څېر هيوادونو ته په جنوري کې رسېږي. په لاره کې، هغوی د مالديپ او سېشيليز په څېر ټاپوګانو کې تم کېږي.
چخلۍ (Dragonflies) په ډېره توده يا ډېره سړه هغوا کې الوتنه نه شي کولای. په سهار کې، هغوی خپلې وزرې خپروي چې له لمر څخه تودوخه واخلي. په ماسپښين کې، ځينې چخلۍ (Dragonflies)، د ځانونو د ارام ساتلو لپاره، خپل بدن پورته ځوړندوي او خپله ګېډه لمر ته مخامخ ساتي.

## لاربښودونکې پوښتنې

1. آيا تاسو کله يوه چخله (Dragonfly) ليدلې ده؟ تشريح يې کړئ يا يوه دانه چخله رسمه کړئ.
2. که تاسو د ببرۍ پر ځای وئ، تاسو به څه کړي وو؟
3. ببرۍ د څه ډول پاڼې په لټه کې وه؟ کومې ونې د چترۍ لپاره ښې پاڼې درلودلې؟
4. آيا تاسو کله د هندي انځر (Banyan) ونه ليدلې ده؟ د دې ونې ځانګړنه څه ده؟ تشريح يې کړئ؟
5. آيا تاسو باران خوښوئ؟ ولې؟ آيا کله د باران وريدو په مهال له کوره بهر او بې چترۍ پاتې شوي ياست؟ تاسو څه وکړل؟